مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۸/۰۵

# وروستی سفر

## قصه په سلو ټکو کي

هغه د صحرا په منځ کي پروت وو. اسکېرلی، د شګو پر بستر. د لمر سوځندو وړانګو ئې له وجوده ژوند څښلی وو. شخ لاس ئې د بوتل پر خوله کلک موښتی وو لکه تر وروستۍ سلګۍ پوري چي ئې د یوې څاڅکي اوبو هیله نه وه پرېښې.

باد او شګو د هغه د ښخولو هوډ کړي وو چي د واکمنانو غلامان آخر ور ورسېدل. د ده جیب ئې وکوت. د ده د جسد په څېر یو مروړل سوی کاغذ ئې پکښې وموند. پرهغه لیکلي سوي ول:

«خفه کېږه مه کور ته ژر درځم. بس دا وروستی سفر دئ.»

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ